له خلکو څخه تر ټولو بد هغه دي چې قیامت پرې راشي او هغوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه یې جوماتونه جوړ کړي دي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي چې ویيل یې: «له خلکو څخه تر ټولو بد هغه دي چې قیامت پرې راشي او هغوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه یې جوماتونه جوړ کړي دي».

[حسن] [احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د بدو خلکو په اړه خبر ورکوي چې دوی هغه خلک دي چې قیامت پرې قایم شي او دوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه یې جوماتونه جوړ کړي وي، د قبرونو تر څنګ او یا یې لورې ته لمونځونه کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3375